Afghanistan Revenue Department

وزارت مالیه
ریاست عمومی عواید
ریاست خدمات حقوقی
آمریت پالیسی
مدیریت عمومی تهیه اسناد حقوقی

# طرزالعمل تطبیق ماده ۳۵ قانون اداره امور مالیات

تاریخ ۱۳۹۵/۱۱/۱۳

شماره ( ۳ )

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د مالیی وزارت
د گمرکاتو او عوایدو معینیت

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
معینیت عواید وگمرکات

د عوایدو لوی ریاست

ریاست خدمات حقوقی و پالیسی عواید

شماره(۰۵) ۱۳۹۵ تاریخ/۱۳/۱۱/۱۳۹۵

## طرزالعمل تطبیق ماده سی و پنجم قانون اداره امور مالیات بابت تأخیردرارائه اظهار نامه مالیات موضوعی

### مبنی:

این طرزالعمل بتأسی از حکم ماده شصت و دوم قانون اداره امور مالیات، بمنظور تطبیق یکسان ماده سی و پنجم قانون اداره امور مالیات مبنی بر وضع مالیه اضافی بابت تأخیر در ارائه اظهار نامه مالیه موضوعی با نظر داشت موارد(سناریوهای متفاوت) و دلایل مختلف از تأخیردر ارائه اظهار نامه یا گزارش مالیات موضوعی درنظر گرفته شده است و تمامی ادارات مالیاتی در سطح کشور مکلف به تطبیق آن میباشد.

### سوابق:

مطابق به احکام قانون مالیات برعایدات اشخاصیکه مکلف به وضع نمودن مالیه موضوعی بابت توزیع معاشات کارمندان، مصارف کرایه، خریداری های اموال و خدمات و سایر مصارف و تادیات تابع مالیه موضوعی میباشند، باید حین توزیع مصارف مالیه آن را وضع و به حساب مربوطه مالیاتی بوقت پیشبینی شده درقانون انتقال و گزارش ( اظهار نامه) آن رادروقت معینه به ادارات مالیاتی مربوطه ارائه نمایند.

ازآنجائیکه در قانون مالیات برعایدات اظهار نامه های مالیاتی به گونه واضح تعریف نشده بود اکثراً به وضع و انتقال مالیات موضوعی اکتفا و به ارائه گذارش آن توجه صورت نمیگرفت، با تطبیق قانون اداره امور مالیات که در آن تعریف اظهار نامه مالیاتی بشکل واضح در نظر گرفته شده است، ازینرو ارائه اظهار نامه های مالیاتی بشمول اظهار نامه های مالیات موضوعی یک آمر حتمی شده است. اما در بعضی موارد براساس برداشت های متفاوت از احکام قانون و درنتیجه آن تطبیق جریمه تأخیر ارائه اظهار نامه برای مالیات موضوعی مشکلات را ایجاد نموده است، برای حل معضله ناشی از برداشت متفاوت و اجراآت متفاوت ایجاب مینماید تا طرزالعمل مشخص برای اجراآت یکسان در سطح تمامی ادارات مالیاتی تهیه و به دسترس ادارات مالیاتی قرارداده شود.

### احکام قانون پیرامون وضع، تادیه وارائه راپور مالیات موضوعی:

درقانون مالیات برعایدات حکم وضع مالیات موضوعی بالای توزیع مصارف ذیل در نظر گرفته شده است:

دافغانستان اسلامی جمهوریت
وزارت مالیه
د عوایدو لوی ریاست

## I. مالیه موضوعی معاشات کارمندان:

متکی به هدایت ماده هفدهم و پنجاوهشتم قانون مالیات برعایدات تمامی اشخاص حقیقی، حکمی، انتفاعی و غیرانتفاعی، ادارات دولتی و سایر نهادها مکلف اند هرگاه تعداد کارمندان شان دریکی ازماه های سال دونفر یا بیشتر ازدونفر باشند ازمعاشات و مزد های قابل تادیه (درصورت تابع مالیه باشد) به کارمندان شان مطابق بارعایت حکم فقره (۳) ماده چهارم آن قانون مالیه را وضع و مطابق به هدایت ماده شصتم قانون مالیات برعایدات مالیه وضع شده را الی دهم ماه بعدی ماه که مالیه را وضع نموده به حساب مربوطه اداره مالیاتی تحویل نموده و مطابق به صراحت این ماده راپور یا اظهارنامه مالیه موضوعی را براساس هدایت تعلیمات نامه مالیات برعایدات به شعبات مربوط مالیاتی ارائه نمایند. در جزء ۶۰.۳ تعلیمات نامه درمورد تحویلی مالیه موضوعی و ارائه گذارش چنین تصریح شده است" *استخدام کننده باید مالیه وضع شده را الی ده روز بعد از ختم ماهیکه مالیه در آن وضع شده به حساب معینه ایکه ازطرف وزارت مالیه معرفی گردیده است تحویل نماید. هرتحویلی باید با یک" راپور مالیه موضوعی و فورمه تحویلی بانک ازکارفرما" تصدیق گردد. این فورمه ها دروزارت مالیه قابل دریافت می باشد.*

*شیوه انتقال وجوه بصورت الکترونیکی نیز وجود دارد. به رهنمود شماره ۶ درصفحه انترنتی وزارت مالیه مراجعه گرد "*

## II. مالیه موضوعی کرایه:

بتأسی از حکم ماده پنجاونهم قانون مالیات برعایدات تمامی منازل و ساختمانهای که بمنظور انجام فعالیت های تجارتی ودفاترکاری به اشخاص حقیقی یا حکمی به کرایه داده میشود، تابع مالیه موضوعی بوده و مستأجرین چنین جایداد ها مکلف اند مطابق به حکم این ماده مالیه موضوعی آن را ازسرجمع کرایه وضع و براساس هدایت جزء ۵۹.۲ تعلیمات نامه مالیات برعایدات الی پانزدهم ماه بعدی ماه که مالیه وضع شده به حساب مربوطه انتقال نمایند. هدایت تعلیمات نامه درزمینه چنین صراحت دارد" *اشخاص حقیقی و حکمی که مکلف به وضع مالیه از تادیات کرایوی شان هستند باید مالیه را به حساب معینه که ازطرف وزارت مالیه دریک بانک باصلاحیت معرفی شده است درظرف ۱۵ روز ماه بعد که در آن کرایه پرداخت شده است، تادیه نمایند."*

## III. مالیه موضوعی قراردادی:

مالیه موضوعی قراردادی در ماده هفتاد و دوم قانون مالیات برعایدات پیشبینی شده است، مطابق به حکم این ماده اشخاصیکه اموال و خدمات را به ادارات دولتی و نهاد های خصوصی و سایر اشخاص در بدل پول قرارداد نمایند تابع پرداخت مالیه موضوعی به تفکیک اشخاص دارنده جواز و فاقد جواز فعالیت تابع پرداخت مالیه موضوعی قراردادی میباشند، براساس حکم فقر ه (۳) این ماده اشخاص تادیه کننده مکلف اند حین انتقال وجوه قرارداد به قراردادی مالیه آن را وضع و مطابق به هدایت جزء ۷۲.۵ تعلیمات نامه مالیات برعایدات به حساب معینه تحویل نمایند، جزء متذکره تعلیمات نامه مالیات برعایدات چنین صراحت دارد" *مطابق به حکم مندرج فقره سوم ماده هفتادودوم قانون مالیات برعایدات، مالیات که از تادیات قرارداد به جانب قراردادی وضع میشود باید درخلال ده روز به حساب دولت انتقال یابد باآنهم بمنظور رهایی شخص وضع کننده از مشکلات اضافی و کاهش هزینه اطاعت پذیری، مالیه وضع شده در خلال یک ماه باید در تاریخ ۱۰ ماه بعدی به حساب مربوطه دولت ارسال شود."*

## IV. سایر مالیات موضوعی مندرج ماده چهل وششم قانون مالیات برعایدات:

درماده چهل وششم قانون مالیات برعایدات نیز بالای منابع چون تکت پولی، مفادسهم، حق الامتیاز، جوایز، مکافات عواید ازدرک قرعه و بخششی ها درنظر گرفته شده است. مطابق به فقره (۴) این ماده شخصی که مالیه را وضع مینماید مکلف است جزئیات

د افغانستان اسلامی جمهوریت
وزارت مالیه
د عوایدو و لوی ریاست
ریاست خدمات حقوقی و مالیه

مالیه وضع شدهٔ ماهانه را به وزارت مالیه الی تاریخ دهم ماه بعد به ترتیبی که وزارت مالیه تجویز مینماید، گزارش دهد. در جزء ۴۶.۷ تعلیماتنامه مالیات برعایدات درمورد ارائه گزارش مالیه موضوعی مندرج ماده چهل و ششم چنین صراحت دارد" *در هر زمانی که مالیه بابت مفاد سهم وضع و به حساب دولت تادیه میگردد، شرکت باید به اداره مالیاتی گزارش حاوی معلومات در مورد سهمداران، مبلغ وضع شده از مفاد سهم و مبلغ تادیه شده به سهمدار یا شرکاء را ارائه نماید. گزارش باید در فورمه های معین ترتیب گردد.*". در جزء ۴۶.۸ به شرکت که مفاد سهم را توزیع مینماید ذیلاً رهنمائی شده است:

*" یک شرکت سهامی که مفاد سهم را به سهمدار خود توزیع مینماید، باید یک صورت حساب نیز صادر نماید. صورت حساب متذکره باید در سه نسخه صادر گردد. سه کاپی سند مذکور از قرار ذیل توزیع گردیده مورد استفاده قرار میگیرد .*

- *دو کاپی باید به سهمدار داده شود. بمنظور دریافت مجرائی در بدل مالیه تادیه شده، سهمدار*
- *کاپی اصل را ضم اظهارنامه مالیات بر عایدات خود نموده و یک کاپی را نزد خود حفظ میدارد.*
- *کاپی سومی باید با راپور ضم گردد که حین تادیه مالیه وضع شده توسط شرکت به بانک ارائه می گردد.*
- *تبصره : شرایط صدور صورت حساب برای تمام تادیات مربوط به مفاد سهم بطور مساویانه بالای مالیه موضوعی تادیات بیلانس سایر عواید مندرج جزء دوم فقره اول ماده ۴۶ قابل تطبیق می باشد."*

## اظهارنامه های مالیاتی:

درجزء ۴ ماده سوم قانون اداره امور مالیات اظهار نامه چنین تعریف شده است"*اظهار نامهٔ مالیاتی: فورم منظور شده ادارهٔ مالیات است که درآن ذمت مالیاتی سنجش و تثبیت گردیده و به اساس آن تأدیه صورت میگرد.*"مطابق به حکم ماده سی و پنجم این قانون هرگاه اظهار نامهٔ مالیاتی و سایر اسناد که ارائه آن در قوانین مالیاتی پیشبینی شده است، بوقت معینه ارائه نگردد تابع وضع مالیه اضافی( جریمه) قرار میگیرد، فقره (۱) ماده سی و پنجم قانون اداره امور مالیات چنین صراحت دارد" *شخصیکه بدون دلایل مؤجه اظهارنامهٔ مالیاتی و یا سایر اسنادیکه ارائه آن در قوانین مالیاتی پیشبینی گردیده به ادارهٔ مالیات ارائه نه نماید، شخص حقیقی به پرداخت مبلغ سی (۳۰) افغانی وشخص حکمی به پرداخت مبلغ یک صد (۱۰۰) افغانی مالیه اضافی در برابر هر روز تأخیر مکلف میباشد.*".

بنابرحکم فوق قانون اظهار نامه مالیاتی بتاریخ معینه که ارائه آن در قوانین مالیاتی بشکل مشخص پیشبینی شده است ارائه نگردد، اداره مالیاتی مکلف است مالیه اضافی (جریمه تاخیر ارائه اظهارنامه) بابت هر روز تأخیر وضع، محاسبه و تحصیل نماید.

چنانچه پیرامون مالیات موضوعی مختلف ملاحظه میگردد، بگونه که در فوق نیز تذکر داده شده است در قانون مالیات برعایدات اکثراً به وضع مالیه از وجوه تابع مالیه حین تادیه آن به سایر اشخاص وتحویلی آن به حساب مالیاتی مربوطه بطور واضح زمان معین پیشبینی شده است بدین معنی که برعلاوه تادیه مالیه وضع شده تاریخ دیگری با حکم دیگری برای ارائه اظهار نامه بشکل مجزا در قانون پیشبینی نشده است.

## طرزالعمل

### ۱) مالیه اضافی بابت تأخیر در گزارش مالیه موضوعی برمعا شات:

وضع مالیه اضافی بابت تأخیر در ارائه گزارش مالیه موضوعی برمعاشات با نظرداشت حالات ذیل از تاریخ انفاذ قانون اداره امور مالیات (۲۷ عقرب سال ۱۳۹۴) تطبیق میگردد:

د افغانستان اسلامی جمهوریت
وزارت مالیه
د عواید و لوی ریاست
د خدمات حقوقی و پالیسی ریاست

- درصورتیکه مالیه موضوعی معاشات حین توزیع معاش توسط کارفرما به کارمندان وضع وبوقت معینه به حساب بانکی اداره مالیاتی مربوطه تحویل شده باشد تاریخ تحویلی تاریخ ارائه اظهار نامه تلقی شده ودر صورت تأخیر در ارائه اظهار نامه جریمه تأخیر ارائه اظهار نامه قابل تطبیق نمیباشد.
- درصورتیکه تحویلی مالیه موضوعی معاشات از وقت معیینه آن به تأخیر صورت گیرد، برعلاوه وضع مالیه اضافی تأخیر پرداخت، مالیه اضافی تأخیر ارائه اظهار نامه مندرج ماده سی و پنجم قانون اداره امور مالیات نیز قابل تطبیق میباشد.
- درصورتی که مالیه موضوعی معاشات وضع نشده باشد مالیه دهنده مکلف به ارائه گزارش مالیه موضوعی نبوده بلکه مصارف آن غیر قابل مجرائی دانسته شده یا تابع پرداخت مالیه اضافی عدم وضع میگردد.
- درصورتیکه مالیه وضع نشده یا وضع شده اما تادیه نشده باشد، موضوع ارائه اظهار نامه مطرح نبوده بلکه تابع پرداخت مالیه اضافی تأخیر پرداخت مالیه و مالیه اضافی مندرج ماده سی وششم قانون اداره امور مالیات میگردد.
- درصوتیکه معاشات چندین ماه یک بار تادیه گردد، کارفرما مکلف است حین توزیع معاشات مالیه موضوعی را وضع وازتاریخ وضع به وقت معینه مالیه را تحویل نماید، درصورت عدم تحویلی مالیه از تاریخ وضع الی دهم ماه بعد برعلاوه پرداخت مالیه اضافی تأخیر پرداخت تابع جریمه تأخیر ارائه اظهار نامه نیز میگردد.
- درصورتیکه مالیه دهنده مالیه موضوعی ماه های قبل از ۲۷ عقرب سال ۱۳۹۴ را تادیه نکرده باشد، از تاریخ انفاذ قانون اداره امور مالیات به بعد تابع مالیه اضافی تأخیر ارائه اظهار نامه میگردد.

## ۲) مالیه اضافی بابت تأخیر در گزارش مالیه موضوعی برکرایه:

دوره پرداخت مالیه برکرایه براساس توافق مؤجر ومستأجر مبنی برپرداخت کرایه تعیین میگردد. اما سنجش مالیه براساس کرایه هرماه صورت میگیرد.

وضع مالیه اضافی بابت تأخیر در ارائه گزارش مالیه موضوعی برکرایه با نظرداشت حالات ذیل از تاریخ انفاذ قانون اداره امور مالیات (۲۷ عقرب سال ۱۳۹۴) به بعد تطبیق میگردد:

- درصورتیکه مطابق به قرارداد جایداد کرایوی، وجوه کرایه به مالک جایداد تادیه و مالیه موضوعی بوقت معینه آن وضع و الی پانزدهم ماه بعدی به حساب مربوطه بانکی اداره مالیاتی مربوطه انتقال شده باشد، تاریخ تحویلی مالیه به بانک تاریخ ارائه اظهار مالیاتی تلقی میگردد. هرگاه گزارش مالیه موضوعی کرایه به تأخیر به اداره مالیه ارائه گردد تابع پرداخت مالیه اضافی مندرج ماده سی و پنجم قانون اداره مالیات نمیگردد.
- هرگاه مالیه موضوعی برکرایه وضع و به وقت معینه آن تادیه نگردد، برعلاوه مالیه اضافی تأخیر پرداخت، وضع مالیه اضافی تأخیر ارائه اظهار نامه مندرج ماده سی و پنجم قانون اداره امور مالیات نیز قابل تطبیق میباشد.
- در صورتیکه مالیه دهنده مالیه موضوعی برکرایه را حین پرداخت وجوه کرایه به مالک جایداد، وضع نکرده باشد، گزارش مالیه موضوعی ارائه نمیگردد، بلکه مالیه در این حالت حکم عدم مجرائی مصارف یا مالیه اضافی عدم وضع مالیه تطبیق میگردد.
- درصورتیکه مالیه موضوعی برکرایه وضع نشده یا وضع شده اما تادیه نشده باشد، در این حالت گزارش مالیه موضوعی برکرایه ارائه نمیگردد، بلکه مالیه دهنده تابع پرداخت مالیه اضافی تأخیر پرداخت مالیه و مالیه اضافی عدم وضع یا عدم تادیه مندرج ماده سی وششم قانون اداره مالیات میگردد.

د افغانستان اسلامی جمهوریت
وزارت مالیه
د عوایدو لوی ریاست
ریاست خدمات حقوقی و مالیاتی
۱۳۹۱

- درصورتیکه کرایه چندین ماه مطابق به قرارداد یک بار تادیه گردد، مستأجر مکلف است حین تادیه مجموع کرایه، مالیه موضوعی آن را وضع و درخلال مدت معینه قانونی به حساب مربوطه انتقال نماید، درصورت تأخیر در پرداخت مالیه صورت گیرد، برعلاوه پرداخت مالیه اضافی بابت تأخیر در تادیه مالیه، جریمه تأخیر ارائه اظهار نامه نیز قابل تطبیق میباشد.
- درصورتیکه مالیه دهنده مالیه موضوعی ماه های قبل از ۲۷ عقرب سال ۱۳۹۴ را تادیه نکرده باشد، از تاریخ انفاذ قانون اداره امور مالیات به بعد تابع مالیه اضافی تأخیر ارائه اظهار نامه میگردد.

## ۳) مالیه اضافی بابت تأخیر در گزارش مالیه موضوعی قراردادی:

وضع و تحویلی مالیه موضوعی قراردادی بستگی به اجرای معاملات تهیه اموال و خدمات دارد، حین اجرای معامله تهیه اموال و خدمات مطابق به حکم قانون و حین انتقال یا پرداخت وجوه به جانب قراردادی مالیه موضوعی قراردادی باید وضع و از تاریخ وضع الی دهم ماه بعدی ماه که مالیه در آن وضع شده، توسط وضع کننده به حساب مربوطه اداره مالیاتی تحویل گردد.

وضع مالیه اضافی بابت تأخیر در ارائه گزارش مالیه موضوعی قراردادی با نظرداشت حالات ذیل از تاریخ انفاذ قانون اداره امور مالیات (۲۷ عقرب سال ۱۳۹۴) به بعد تطبیق میگردد:

- درصورت مالیه موضوعی قراردادی بوقت معینه قانونی به حساب اداره مالیاتی مربوطه تحویل شده باشد، تاریخ تحویلی مالیه به بانک تاریخ ارائه اظهارنامه پنداشته شده در صورت مالیه دهنده گزارش آن را بعداً ارائه نماید، جریمه تأخیر ارائه گزارش قابل تطبیق نمیگردد.
- درصورتیکه مالیه موضوعی قراردادی بوقت معینه آن به حساب مالیاتی مربوطه تحویل نگردد برعلاوه جریمه تأخیر پرداخت مالیه، جریمه تأخیر ارائه اظهار نامه نیز تطبیق میگردد.
- درصورتیکه مالیه موضوعی قراردادی مربوط به دوره قبل از انفاذ قانون اداره امور مالیات بوده و به تأخیر بعد از انفاذ قانون تحویل و گزارش آن ارائه گردد، مالیه اضافی بابت تأخیر در ارائه گزارش از تاریخ ۲۷ عقرب ۱۳۹۴ به بعد قابل تطبیق میباشد.
- در صورت مالیه موضوعی قراردادی از معاملات تابع مالیه وضع نشده باشد، درین حالت ارائه گزارش مطرح نشده بلکه مصارف مالیه دهنده غیر قابل مجرائی دانسته شده و جریمه عدم وضع مالیه موضوعی تطبیق میگردد.
- درصورتیکه مالیه موضوعی قراردادی وضع نشده یا وضع شده اما تادیه نشده باشد، درین حالت گزارش مالیه موضوعی برکرایه ارائه نمیگردد، بلکه مالیه دهنده تابع پرداخت مالیه اضافی تأخیر پرداخت و مالیه اضافی عدم وضع یا عدم تادیه مندرج ماده سی وششم قانون اداره امورمالیات میگردد.

## ۴) مالیه اضافی بابت تأخیر در گزارش مالیه موضوعی مندرج ماده چهل و ششم قانون مالیات برعایدات:

درقانون مالیات برعایدات و تعلیمات نامه هیچ حکم یا هدایت پیرامون ارائه گزارش مالیات موضوعی مندرج جزء دوم فقره (۱) ماده چهل و ششم قانون متذکره پیشبینی نشده است بلکه مطابق به هدایت تعلیمات نامه مالیه دهنده که مکلف به وضع مالیه بابت توزیع مصارف مندرج این حکم میباشد سند ثبوت وضع مالیه را ضم اظهار نامه سالانه مینماید تا برای مجرائی مصارف مالیه دهنده منحیث ثبوت استفاده گردد.

د افغانستان اسلامی جمهوریت
وزارت مالیه
۱۳۹۴

این طرزالعمل از تاریخ منظوری نافذ و تمام ادارات مالیاتی به تطبیق آن مکلف میباشد.

آمر طرح و تحلیل پالیسی　　　رئس خدمات حقوقی و پالیسی عواید　　　رئیس عمومی عواید

ملاحظه شد

منظور است

معین عواید و گمرکات

۱۳۹۵/۱۱/

د افغانستان اسلامی جمهوریت
وزارت مالیه
د عوایدو لوی ریاست
ریاست خدمات حقوقی و پالیسی
۱۳۹۴

دافغانستان اسلامی جمهوریت

د مالیی وزارت

د ګمرکونو او عوایدو معینیت

جمهوری اسلامی افغانستان

وزارت مالیه

معینیت عواید وگمرکات

د عوایدو لوی ریاست

د عوایدو د حقوقی خدمتونو او پالیسی ریاست

د طرزالعمل شمیره: ( ) نیته / ۱۱ /۱۳۹۵

## د موضوعی مالیاتو د اظهارلیک د ارایه کولو پر څنډ د مالیاتی چارو د اداری د قانون د پنځه دیرشمی مادی د تطبیق طرزالعمل

**مبنا:**

دغه طرزالعمل د مالیاتی چارو د اداری د قانون د دوه شپیتمی مادی د حکم سره سم د موضوعی مالیاتو د اظهارلیک په ارایه کولو کی پر څنډ د مختلفو مواردو (متفاوتو سناریوګانو) او مختلفو دلایلو ته په کتو سره د اضافی مالیاتو د وضع کولو په اړه د نوموړی قانون د پنځه دیرشمی مادی د یو شان پلی کولو په موخه چمتو شوی دی.

**سوابق:**

پر عایداتو باندی د مالیاتو د قانون د حکمونو سره سم هغه اشخاص چی د کارکوونکو د معاشونو پر توزیع، د کرایی پر مصارفو، د خدمتونو او اموالو پر پیرودلو او د موضوعی مالیاتو تابع نورو مصارفو او تادیو باندی د مالیې پر وضع کولو مکلف دی، باید د توزیع په وخت کی د هغوی مالیه وضع او اړونده مالیاتی حساب ته یی په خپل ټاکلی نیټه انتقال او د هغه راپور (اظهارلیک) پر خپل ټاکلی وخت اړوند مالیاتی ادارو ته ارایه کړی.

له هغه ځایه چه پر عایداتو باندی د مالیاتو په قانون کی مالیاتی اظهارلیکونه په واضحه توګه تعریف شوی نه وو، تر ډیره بریده د موضوعی مالیاتو پر وضع کولو او انتقال اکتفاء کیدله او د راپور ارایه کولو ته پاملرنه نه کیدله، د مالیاتی چارو د اداری قانون په پلی کیدو سره چه په هغه کی مالیاتی اظهارلیکونه په واضحه توګه تعریف شوی، نو له دی کبله د مالیاتی اظهارلیکونو سره سره د موضوعی مالیاتو د اظهارلیکونو ارایه کول حتمی ګڼل شوی. مګر په ځینو مواردو کی د قانون د حکمونو څخه د متفاوته انګیرنو پر اساس او د هغه په پایله کی د موضوعی مالیاتو د اظهارلیک د ارایه کولو پر څنډ د جریمی پلی کولو ځینی ستونزی را منځ ته کړیدی، د مختلفو انګیرنو او کړنو د معضلی د حل لپاره لازمه ګڼل کیږی ترڅو د ټولو مالیاتی ادارو په سطحه د ورته کړنو یو مشخصه کړنلاره جوړه او د مالیاتی ادارو په واک کی ورکړل شی.

**د موضوعی مالیاتو د وضع، تادیی او د راپور د ارایه کولو په اړه د قانون حکمونه:**

پرعایداتو باندی د مالیاتو په قانون کی د موضوعی مالیاتو دوضع کولو حکم د لاندینیو لګښتونو پر ویش په نظر کی نیول شوی دی:

د افغانستان اسلامی جمهوریت وزارت مالیه د عوایدو لوی ریاست ریاست خدمات حقوقی و پالیسی ۱۳۹۴

I. د کارکونکو د معاشونو موضوعی مالیه:

پر عایداتو باندی د مالیاتو قانون ۱۷ او ۵۸ مادو د لاربښوونو پر اساس ټول حقیقی، حکمی، انتفاعی او غیر انتفاعی اشخاص، دولتی او نور ارګانونه مکلف دی که چیری د هغوی د کارکونکو شمیر د کال په یوه میاشت کی دوه یا له دوه کسو څخه ډیر شی نو دهغوی د تادیی وړ معاشونو او مزد څخه (که چیری د مالیاتو تابع وی) د دغه قانون د څلورمی مادی د ۳ فقری په پام کی نیولو سره مالیه وضع او پرعایداتو باندی د مالیاتو د قانون د شپیتمی مادی د لاربښونی سره سم وضع شوی مالیه د راتلونکی میاشتی تر لسمی نیټی پوری د مالیاتی اداری اړونده حساب ته تحویل او د نوموړی مادی د صراحت سره سم د موضوعی مالیاتو اظهارلیک یا راپور پر عایداتو باندی د مالیاتو د تعلیماتنامی د لاربښونی پر اساس اړونده مالیاتی څانګو ته وړاندی کړی. د تعلیماتنامی په ۶۰،۳ جزء کی د موضوعی مالیاتو د راپور د ارایه کولو او انتقال په اړه دارنګه څرګندونه شویده *"استخدام کونکی باید وضع شوې مالیه د راتلونکی میاشتی تر لسمی نیټی پوری د مالیې وزارت ټاکلی حساب ته تحویل کړی. هره تحویلی باید د "موضوعی مالیاتو یو راپور او د بانک تحویلی فورمه د استخدام کونکی څخه" تصدیق شی. دغه فورمی د مالیی په وزارت کی ترلاسه کیدای شی.*

د وجوه د انتقال الیکترونیکی طریقه هم موجوده ده. د مالیی وزارت په انټرنیتی پاڼه کی د شپږمی شمیری لاربښود ته دی مراجعه وشی.

II. د کرایی موضوعی مالیه:

پر مالیاتو باندی د عایداتو قانون د ۵۹ مادی د حکم پر اساس ټولی هغه ودانی او کورونه چی د کاری دفترونو او د سوداګری په موخه حقیقی او حکمی اشخاصو ته په کرایه ورکول کیږی، د موضوعی مالیاتو تابع دی او د نوموړی مادې د حکم سره سم د دغه ډول ملکیتونو مستأجرین مکلف دی د دا رنګه ودانیو موضوعی مالیه د ټولټال کرایی څخه وضع او پرعایداتو باندی د مالیاتو تعلیماتنامی د ۵۹،۲ جزء د لاربښونی پر اساس وضع شوې مالیه د راتلونکی میاشتی تر پنځلسمی نیټی پوری اړونده حساب ته انتقال کړی. تعلیماتنامه په دغه برخه کی داسی څرګندونه کوی *"هغه حقیقی او حکمی اشخاص چه د خپل کرایوی تادیو څخه د مالیاتو په وضع کولو مکلف دی باید وضع شوې مالیه د پنځلسو ورځو په ترځ کی اړونده باصلاحیته بانک ته چه د مالیی وزارت له خوا ور پیژندل شوی، تادیه کړی."*

III. د قراردادی موضوعی مالیه:

پر عایداتو باندی د مالیاتو قانون په دوه اویایمه ماده کی د قراردادی موضوعی مالیه اټکل شوی ده. د نوموړی مادی د حکم سره سم هغه اشخاص چه د خصوصی او دولتی ارګانونو یا نورو اشخاصو سره د پیسو په مقابل کی د اموالو یا خدمتونو قرارداد کوی د موضوعی مالیاتو د تادیی تابع ګرځی په تفکیک د هغه اشخاصو چی د فعالیت جواز لرونکی دی له هغه اشخاصو څخه چی د فعالیت جواز نه لری. د نوموړی مادې د (۳) فقری د حکم پر اساس تادیه کونکی اشخاص مکلف دی تر څو قراردادی ته د قرارداد وجوه د انتقال په ترځ کی د هغه مالیه وضع او پرعایداتو باندی د مالیاتو تعلیماتنامی د ۷۲،۵ جزء د حکم سره سم د مالیاتو ټاکل شوی حساب ته تحویل کړی. پر عایداتو باندی د مالیاتو تعلیماتنامی نوموړی جزء داسی صراحت لری. *"پر عایداتو باندی د مالیاتو قانون د ۷۲ مادی د دریمی فقری د حکم سره سم هغه مالیات چی د قرارداد له تادیو څخه وضع کیږی باید د لسو ورځو په ترځ کی د دولت حساب ته ولیږدول شی، برسیره پر دې د وضع کوونکی شخص د لا ډیرو ستونزو څخه د خلاصون او د اطاعت منلو لګښت د کمیدو په منظور وضع شوې مالیه باید د یوی میاشتی په ترځ کی د راتلونکی میاشت په ۱۰ نیټه د دولت اړونده حساب ته ولیږدول شی."*

د افغانستان اسلامی جمهوریت وزارت مالیه د عواید و لوی ریاست

## ۱۷. پرعایداتو باندی د مالیاتو قانون په شپږ څلویښتمه ماده کی راغلی نور موضوعی مالیات:

پر عایداتو باندی د مالیاتو قانون په ۴۶ ماده کی پر ځینی منابعو لکه پولی ټکټ، د ونډی ګټه، حق الامتیاز، جایزی، د پچه اچونی له لاری د عوایدو مکافات او ډالیو باندی هم مالیه په نظر کی نیول شویده. د نوموړی مادی د څلورمی فقری سره سم هغه اشخاص چه مالیات وضع کوی مکلف دی تر څو میاشتنی وضع شوی مالیه او د تادیو تفصیل په هغه ترتیب سره چه د مالیی وزارت لخوا تجویز شوی د راتلونکی میاشتی تر لسمی نیټی پوری د مالیی وزارت ته راپور ورکړی. پر عایداتو باندی د مالیاتو تعلیماتنامی په ۴۶۷ جزء کی د موضوعی مالیاتو د راپور د ارایه کولو په اړه دارنګه څرګندونه کوی. *"هرکله چه د ونډی د ګټی مالیه وضع او د دولت حساب ته تادیه کیږی، شرکت باید دمالیاتو اداری ته د ونډه لرونکو، د ونډی د ګټی څخه وضع شوی مبلغ او ونډه لرونکو یا شریکانو ته تادیه شوی مبلغ په اړه راپور ارایه کړی. راپور باید په ټاکلی فورمو کی ترتیب شی."* په ۴۶۸ جزء کی هغه شرکت ته چه د ونډی ګټه ویشی په لاندی توګه لارښوونه شویده:

*"یو سهامی شرکت چه د ونډی ګټه په خپل ونډه لرونکی باندی ویشی، باید یو صورت حساب هم صادر کړی. نوموړی صورت حساب باید په دریو نسخو کی صادر شی. د ذکر شوی سند دری کاپیانی په لاندی توګه ویشل کیږی او د ګټی اخیستنی وړ ګرځی.*

- *د ونډه لرونکی د تادیه شوی مالیاتو د مجرایی د لاسته راوړلو په منظور دوه کاپیانی باید ونډه لرونکی ته ورکړل شی.*
- *پر عایداتو باندی د مالیاتو اظهارلیک سره اصلی کاپی ضمیمه کوی او یو کاپی د ځان سره ساتی.*
- *دریمه کاپی باید د راپور سره ضمیمه شی تر څو د شرکت پواسطه د وضع شوی مالیاتو د تادیی پر وخت بانک ته وړاندی شی.*
- *تبصره: د ونډی د ګټی اړوند ټولو تادیو د صورت حساب د صدور شرایط په مساویانه ډول د تادیو په موضوعی مالیه انډول او د ۴۶ مادی د اولی فقری د دوهم جزء په ټولو عوایدو د پلی کیدو وړ دی."*

**مالیاتی اظهارلیکونه:**

د مالیاتی چارو د اداری قانون د دریمی مادی په څلورم جزء کی اظهارلیک دارنګه تعریف شویدی *"مالیاتی اظهارلیک: د مالیاتو د اداری منظور شوی فورم دی چه په هغه کی مالیاتی ذمت سنجش او تثبیتیږی او پر بنسټ یی ورکړه سرته رسیږی."* د نوموړی قانون د پنځه دیرشمی مادی د حکم پر اساس هرکله که مالیاتی اظهارلیک او نور اسناد چی دهغه ارایه کول په مالیاتی قوانینو کی اټکل شوی، په خپل ټاکلی وخت ارایه نه شی د اضافی مالیاتو د وضع کولو یا جریمی تابع ګرځی. د مالیاتی چارو د اداری قانون د پنځه دیرشمی مادی اوله فقره داسی صراحت لری." هغه شخص چی له مؤجهو دلیلونو پرته مالیاتی اظهارلیک اویا نور هغه سندونه چی وړاندی کول یی په مالیاتی قوانینو کی اټکل شوی د مالیاتو اداری ته وړاندی نه کړی، د هری ورځی ځنډ په وړاندی، حقیقی شخص د دیرشو (۳۰) افغانیو پر ورکړی او حکمی شخص د سلو (۱۰۰) افغانیو اضافی مالیی پر ورکړی مکلف دی.

د قانون د پورته ذکر شوی حکم پر اساس که چیری مالیاتی اظهارلیک چه په ټاکلی نیټه د هغه ارایه کول په مالیاتی قوانینو کی په مشخصه توګه اټکل شویدی، وړاندی نه شی نو د مالیاتو اداره مکلفه ده تر څو اضافی مالیه ( داظهارلیک په ارایه کی د ځنډ جریمه) پر هره ورځ ځنډ وضع، محاسبه او تحصیل کړی.

لکه څرنګه چی د بیلابیلو موضوعی مالیاتو په اړه ملاحظه کیږی، په هغه توګه چی پورته هم ذکر شویدی پر عایداتو باندی د مالیاتو قانون تر ډیره بریده د مالیاتو وړ وجوه نورو اشخاصو ته د تادیو په وخت کی وضع او د هغه اړونده مالیاتی حساب ته تحویلی په

د افغانستان اسلامی جمهوریت
وزارت مالیه
د عوایدو و لوی ریاست
ریاست خدمات حقوقی مالیه

واضحه توګه وخت اټکل شویدی پدی معنا چی د وضع شوی مالیاتو د تادیی سربیره بله نیټه یا حکم د اظهارلیک د ارایه کولو لپاره په مجزاء توګه په قانون کی ندی اټکل شوی.

**طرزالعمل:**

**۱) د معاشونو د موضوعی مالیاتو په راپور کی د ځنډ اضافی مالیه:**

د معاشونو د موضوعی مالیاتو د راپور په ارایه کی د ځنډ د اضافی مالیاتو وضع د لاندینیو حالاتو په نظر کی نیولو سره د مالیاتی چارو اداری قانون انفاذ (۲۷ د لړم د ۱۳۹۴) نیټی څخه د پلی کیدو وړ دی:

- که چیری د معاشونو موضوعی مالیه د توزیع په وخت کی د استخدام کونکی پواسطه وضع او په خپل ټاکلی وخت اړونده بانکی حساب ته تحویل شوی وی، د تحویلی نیټه د اظهارلیک د ارایه کولو نیټه ګڼل کیږی او د اظهارلیک په ځنډ سره د ارایه کولو په صورت کی د اظهارلیک په ارایه کی د ځنډ جریمه د پلی کیدو وړ نه ګرځی.
- که چیری د معاشونو دموضوعی مالیاتو تحویلی د خپل ټاکلی وخت څخه په ځنډ سره تر سره شی، د مالیاتی چارو د اداری قانون د پنځه دیرشمی مادی له مخی د مالیاتو په تادیه کی د ځنډ اضافی مالیاتو سربیره د اظهارلیک په ارایه کی د ځنډ اضافی مالیه هم د پلی کیدو وړ ګرځی.
- په هغه صورت کی چه د معاشونو موضوعی مالیه وضع شوی نه وی مالیه ورکونکی د موضوعی مالیاتو د راپور په ارایه کولو مکلف ندی بلکه د هغه مصارف د مجرایی وړ نه پیژندل کیږی یا د نه وضع کولو له امله د اضافی مالیاتو د تادیی تابع ګرځی.
- که چیری مالیه وضع شوی نه وی او یا وضع شوی وی مګر تادیه شوی نه وی، د اظهارلیک د ارایه کولو موضوع مطرح نده مګر د مالیاتی چارو د اداری قانون د شپږ دیرشمی مادی له مخی د مالیاتو په تادیه کی د ځنډ له امله د اضافی مالیاتو د تادیی تابع ګرځی.
- که چیری د څو میاشتو معاشونه په یو ځل تادیه شی. استخدام کونکی مکلف دی چه د معاشونو د توزیع په وخت کی موضوعی مالیه وضع او په ټاکلی وخت یی اړونده بانکی حساب ته تحویل کړی، د وضع کیدو د نیټی څخه د راتلونکی میاشتی تر لسمی نیټی پوری د نه تحویلی په صورت کی په تادیه کی د ځنډ اضافی مالیاتو برسیره د اظهارلیک په ارایه کی د ځنډ جریمی تابع هم ګرځی.
- که چیری مالیه ورکونکی د ۲۷ لړم ۱۳۹۴ نیټی څخه د مخکنیو میاشتو موضوعی مالیه نه وی تادیه کړی، د مالیاتی چارو د اداری قانون د انفاذ د نیټی (۲۷ لړم ۱۳۹۴) څخه وروسته د اظهارلیک په ارایه کی د ځنډ اضافی مالیاتو تابع ګرځی.

**۲) د کرایی موضوعی مالیاتو د راپور پر ځنډ اضافی مالیه:**

پر کرایی باندی د مالیاتو د تادیی موده د مؤجر او مستأجر د توافق او د کرایی د تادیی پر اساس ټاکل کیږی. مګر د مالیاتو سنجش د هری میاشتی د کرایی پر اساس تر سره کیږی.

د کرایی موضوعی مالیاتو د راپور د ارایه کولو پر ځنډ د اضافی مالیاتو وضع د لاندینیو حالاتو په نظر کی نیولو سره د مالیاتی چارو اداری قانون د انفاذ نیټی (۲۷ لړم ۱۳۹۴) څخه وروسته د پلی کیدو وړ ګرځی:

- که چیری د کرایوی ملکیت د قرارداد مطابق، د کرایی وجوه د جایداد مالک ته تادیه او د هغه موضوعی مالیه په خپل ټاکلی وخت وضع او د راتلونکی میاشتی تر پنځه لسمی نیټی پوری د مالیاتی اداری اړونده بانکی حساب ته انتقال

شوی وی، بانک ته د مالیاتو د انتقال نیټه د اظهارلیک د ارایه کولو نیټه ګڼل کیږی، او که چیری د کرایی موضوعی مالیاتو راپور په ځنډ سره مالیاتی اداری ته ارایه شی د مالیاتی چارو د اداری قانون په پنځه دیرشمه ماده کی د مندرج اضافی مالیاتو تابع نه ګرځی.

- که چیری د کرایی موضوعی مالیه په خپل ټاکلی وخت وضع او تادیه نه شی، د مالیاتی چارو د اداری قانون د پنځه دیرشمی مادی د حکم سره سم د مالیاتو په تادیه کی د ځنډ اضافی مالیه تر څنګ د اظهارلیک په ارایه کی د ځنډ اضافی مالیه هم د پلی کیدو وړ ګرځی.

- که چیری مالیه ورکونکی د ملکیت خاوند ته د وجوه د تادیی پر وخت د کرایی موضوعی مالیه نه وی وضع کړی، د موضوعی مالیاتو راپور نه ارایه کیږی، بلکه په دغه حالت کی مالیه د مصارفو د مجرایی قابل نه ګرځی یا د مالیاتو د نه وضع کولو له امله اضافی مالیه د پلی کیدو وړ ګرځی.

- که چیری د کرایی موضوعی مالیه وضع شوی نه وی او یا وضع شوی وی مګر تادیه شوی نه وی، په داسی حالت کی د کرایی موضوعی مالیاتو راپور نه ارایه کیږی بلکه مالیه ورکونکی د مالیاتی چارو د اداری قانون د شپږ دیرشمی مادی د حکم پر اساس د مالیاتو په تادیه کی د ځنډ او یا د مالیاتو د نه وضع کولو او نه تادیه کولو له امله د اضافی مالیاتو د تادیی تابع ګرځی.

- که چیری د قرارداد سره سم د څو میاشتو کرایه په یو ځل تادیه شی، مستأجر مکلف دی چه د ټولټال کرایی د تادیی په وخت کی د دغی موضوعی مالیه وضع او د ټاکلی قانونی مودی په ترڅ کی یی اړونده حساب ته انتقال کړی، که چیری د مالیاتو په تادیه کی ځنډ تر سره شی د مالیاتو په تادیه کی د ځنډ اضافی مالیی تر څنګ د اظهارلیک په ارایه کی د ځنډ جریمه هم د پلی کیدو وړ ګرځی.

که چیری مالیه ورکونکی د ۲۷ لړم ۱۳۹۴ نیټی څخه د مخکینیو میاشتو مالیه نه وی تادیه کړی، د مالیاتی چارو د اداری قانون د انفاذ د نیټی (۲۷ لړم ۱۳۹۴) څخه وروسته د اظهارلیک په ارایه کی د ځنډ اضافی مالیی تابع ګرځی.

**۳) د قراردادی موضوعی مالیاتو په راپور کی د ځنډ اضافی مالیه:**

د قراردادی موضوعی مالیاتو وضع او انتقال د خدمتونو او اموالو د تدارکاتی معاملاتو په اجراء پوری تړلی ده، د قانون د حکم سره سم د خدمتونو او اموالو د تدارکاتی معاملی د اجراء او یا د هغی د وجوه قراردادی ته د تادیی یا انتقال پر وخت دهغی موضوعی مالیه وضع او د راتلونکی میاشتی تر لسمی نیټی پوری د وضع کونکی پواسطه د مالیاتی اداری اړونده حساب ته انتقال شی.

د قراردادی موضوعی مالیاتو د راپور په ارایه کی د ځنډ اضافی مالیه د لاندینیو حالاتو په نظر کی نیولو سره د مالیاتی چارو د اداری قانون د انفاذ د نیټی ۲۷ لړم ۱۳۹۴ څخه وروسته د پلی کیدو وړ ګرځی.

- که چیری د قراردادی موضوعی مالیه په خپل ټاکلی وخت د مالیاتی اداری اړوند حساب ته انتقال شوی وی، بانک ته د مالیاتو د انتقال نیټه د اظهارلیک د ارایه کولو نیټه ګڼل کیږی، او که چیری مالیه ورکونکی راپور ورسته

... د تطبیق وړ نه ګرځي.

که چیری د قراردادی موضوعی مالیه پر خپل ټاکلی وخت د مالیاتی اداری اړوند حساب ته تحویل نه شی، په ورکړه ی د ځنډ د جریمی تر څنګ د اظهارلیک په وړاندی کولو کی د ځنډ جریمه هم د تطبیق وړ ګرځي.

که چیری د قراردادی موضوعی مالیه د مالیاتی چارو د اداری قانون د انفاذ څخه د مخکی دوری پوری تړلی وی او د هغه د راپور ارایه او تحویل د نوموړی قانون د انفاذ نیټی (۲۷ لړم ۱۳۹۴) څخه وروسته تر سره کیږی، د راپور په ارایه کی د ځنډ اضافی مالیه د ۲۷ عقرب ۱۳۹۴ د نیټی څخه ورسته مودې لپاره د پلی کیدو وړ ګرځي.

که چیری د قراردادی د مالیاتو وړ معاملاتو څخه موضوعی مالیه نه وی وضع شوی، د راپور ارایه کول مطرح نه دی بلکه د مالیه ورکونکی مصارف د مجرایی وړ نه پیژندل کیږی یا د موضوعی مالیاتو د نه وضع کولو جریمه د تطبیق وړ ګرځي.

- که چیری د قراردادی موضوعی مالیه وضع شوی نه وی یا وضع شوی وی مګر تادیه شوی نه وی، د قراردادی موضوعی مالیاتو راپور نه ارایه کیږی بلکه مالیه ورکونکی د مالیاتی چارو د اداری قانون د شپږ دیرشمی مادی د حکم پر اساس د مالیاتو په تادیه کی د ځنډ او یا د مالیاتو د نه وضع کولو او نه تادیه کولو له امله د اضافی مالیاتو د تادیی تابع ګرځي.

**۴) د موضوعی مالیاتو د راپور پر ځنډ پر عایداتو باندی د مالیاتو قانون په شپږ څلویښتمه ماده کی مندرج اضافی مالیه:**

عایداتو باندی د مالیاتو په قانون او تعلیماتنامه کی د موضوعی مالیاتو د راپور د ارایه کولو په اړه هیڅ داسی حکم یا لارښونه د نوموړی قانون د شپږ څلویښتمی مادی اولی فقری په دوهم جزء کی درج وی شتون نه لری بلکه د تعلیماتنامی د لارښونی پر هغه مالیه ورکونکی چه په دغه حکم کی د مندرجو لګښتونو پر ویش د مالیاتو په وضع کولو مکلف دی د مالیاتو د وضع کلنی اظهارلیک سره د ثبوت په توګه ضمیمه کوی تر څو د مالیه ورکونکی د مصارفو د مجرایی لپاره تری د ثبوت په واخیستل شی.

د منظوری له نیټی څخه نافذ او ټولی مالیاتی اداری یې په پلی کولو باندی مکلفی دی.

د طرحی او تحلیل آمر

دعوایدو حقوقی خدمتونو او پالیسی رییس

دعوایدو لوی رییس

وکتل شو
منظور دی
د عوایدو او ګمرکونو معین
۱۳۹۵/۱۱/



د افغانستان اسلامی جمهوریت
وزارت مالیه
د عوایدو لوی ریاست
ریاست خدمات حقوقی و پالیسی
۱۳۹۴

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مالیه

د افغانستان د اسلامی جمهوریت
دمالیې وزارت

*Islamic Republic of Afghanistan*
*Ministry of Finance*
*Afghanistan Revenue Department*
ریاست عمومی عواید
ریاست خدمات حقوقی وپالیسی عواید
آمریت طرح وتحلیل پالیسی عواید
مدیریت عمومی طرح و تحلیل پالیسی عواید

RS1 - 999
1395/11/13

271537 الی 271529
22 الی 14

شمیره :
تاریخ : 1395/11/13

**موضوع : د موضوعی مالیاتو د اظهارلیک په وړاندی کولو کی د ځنډ له امله د مالیاتی چارو د اداري د قانون د پینځه دیرشمی مادې د تطبیق طرزالعمل.**

**دلویو مالیه ورکونکو محترم ریا ست ته !**

پر عایداتو د مالیاتو دقانون د ۱۰۸ مادې او دمالیاتی چارو داداري دقانون د ۶۲ مادې پر اساس "د موضوعی مالیاتو د اظهارلیک په وړاندی کولو کی د ځنډ له امله د مالیاتی چارو د اداري د قانون د پینځه دیرشمی مادې د تطبیق طرزالعمل" ترتیب شوی او د ذیصلاح مقاماتو له منظوری وروسته اوس دتطبیق وړ دی.
نو له دی لیک سره مل دنوموړی طرزالعمل کاپی تاسی ته واستول شوه او تاسی ته هدایت درکول کیږی چې د دې طرزالعمل د تطبیق په برخه کی په خپله حصه اجراات وکړی.
همدارنګه د ولایاتو د ارتباط محترم ریاست ته هدایت ورکول کیږی تر څو نوموړی طر زالعمل د وروستی اجرااتو لپاره ټولو ولایاتو ته واستوی.

**په درنښت**

**شفیق احمد " قاری زاده "**
**د ګمرکونو او عوایدو معین**

A. Wali

**کاپی:**
**دمنځنیو مالیه ور کونکو محترم ریاست ته.**
**دکوچینو مالیه ور کونکو محترم ریاست ته.**
**دشکایاتو محترم ریاست ته.**
**دغیر مالیاتی عوایدومحترم ریاست ته.**
**د ولایاتو دارتباط محترم ریاست ته.**
**د خدماتو اوسیستم محترم ریاست ته.**
**د عوایدو د پلان محترم ریاست ته.**
**د قانون د تعبیر او لارښوونی محترم آمریت ته.**
**مربوطه شعبې ته.**

آدرس: سرک کابل جلال آباد، معینیت عواید و گمرکات متصل گمرک کابل، شماره تلیفون (0752005438)
Address: Kabul Jalal abad Highway, Customs & Revenue Department, Email: info.tax@mof.gov.af, Web: www.mof.gov.af/tax